# د میکاه نبي کتاب

د کتاب پېژندنه

میکاه نبي د اشعیا نبي د زمانې سړی ؤ چې په یهودا کې د جنوبي پاچاهۍ د یو ښارګوټي څخه ؤ. هغه دا کتاب د میلاد نه مخکې په ۷۲۲ کال کې د اسراییلو د شمالي حکومت د سقوط نه مخکې لیکلی دی. میکاه پوهېده چې یهودا به هم په هغه مصیبت کې راګېر شي چې د اسراییلو په شمالي پاچاهۍ باندې راغلی ؤ او عاموس نبي د هغې پېشګویي کړې وه. میکاه اعلان وکړ چې خدای به د یهودا خلکو ته هم د هغوی د بت پرستۍ د ګناه او بې عدالتۍ له امله سزا ورکړي.

خو د دې ناامیده کوونکې پېشګویۍ سره سره میکاه د یوې روښانه او هیله مند راتلونکې خبر ورکوي. په څلورم فصل کې د یو څخه تر څلورم ایتونو پورې میکاه د نړېوالې سولې او ارامۍ تصویر چې د خدای د رښتیني پاچا تر مشرۍ لاندې به قایم شي، وړاندې کوي. میکاه د داود د اولادې څخه د یو لوی پاچا د راخرګندېدلو پېشګویي کوي چې د انسان د خلاصون پلان جوړوي او هغه عملي کوي. میکاه هغه پیغمبر دی چې د دې لوی پاچا یعنې وعده شوي مسیح د زیږېدلو د سم او دقیق ځای پېشګویي کوي. میکاه خپل هدف او نظر لنډوي او وایي:« ښښتن تاسو ته ویلي دي چې نېکي کول څه شی دی. هغه چې زمونږ نه څه غواړي هغه دا دي: د انصاف نه کار واخلو، تلپاتې مینه وکړو او په عاجزۍ سره د خپل خدای په لاره لاړ شو.» (۶: ۸)



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د موضوعګانو لست

د اسراییلو او یهودا په هکله قضاوت: ۱– ۳ فصلونه

بېرته د سولې راوستل او خلاصون: ۴– ۵ فصلونه

د خبردارۍ پیغام او امید: ۶– ۷ فصلونه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١ ۝١ په هغه وخت کې چې یوتام، آحاز او حزقیا د یهودا پاچاهان وو، څښتن دا پیغام میکاه ته
چې د مورشیت د ښارګوټي څخه ؤ، ورکړ. میکاه د سامرې او اورشلیم په هکله دا رویا ولیدله:

## د سامرې او اورشلیم په خلاف شاهدي

۝٢ ای ټولو قومونو، واورئ دا خبره

ای د ځمکې په مخ ټولو اوسېدونکو خلکو

غوږ ونیسئ

څښتن تعالی ورکوي شاهدي ستاسو خلاف

هغه خبرې کوي له خپل سپېڅلي معبده

۝٣ ګورئ څښتن راځي له خپله ځایه

هغه لاندې راځي او ګرځي د غرونو په سرونو

۝٤ داسې ویلې کېږي غرونه د هغه د پښو لاندې

لکه موم چې ویلې کېږي اور کې

داسې راتوییږي درو ته

لکه اوبه چې راتوییږي له غونډیو څخه

۝٥ دا هرڅه به پېښ شي، ځکه چې د اسراییلو قوم سرکښي او ګناه کړې ده. د اسراییلو د سرکښۍ
په خاطر څوک ملامته دی؟ سامره یعنې په خپله پایتخت! په یهودا کې د بت‌پرستۍ مرکز چېرته دی؟



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په خپله اورشليم!

۶ ښتن وايي: «نو زه به سامره په کنډوالو يعنې داسې ځای بدله کړم چې د انګورو تاکونه
په کې کرل کيږي. زه به د ښار د خاورو او ښتو ډېری لاندې درې ته وغورځوم او د ښار بنيادونه
به لوڅ پراته وي. ۷ د هغې ټول قيمتي بتان به ټوټې ټوټې شي او د هغې د بدلمنتوب ټوله ګټه به
په اور کې وسوځول شي او ټولې مجسمې به يې ويجاړې شي. اوس به يې دښمنان هغه شيان نورو
ځايونو ته د فاحشو د اجورې دپاره يوسي.»

## د اورشليم په خاطر ژړا او وير

۸ نو ميکاه وويل: «په دې سبب به زه ژړا او وير کوم. د خپل غم د ښکاره کولو په خاطر به زه
لوڅې پښې او لوڅ بدن ګرځم. زه به د سورلنډې په شان انګولم او د شترمرغ په شان به ژړا او انګولا
کوم. ۹ ځکه چې د سامرې ناروغي نه رغيږي او تر يهودا پورې خپره شوې ده. حتی هغه
ناروغي د اورشليم تر دروازو پورې يعنې چېرته چې زما قوم اوسيږي، هم رارسېدلې ده.»

۱۰ نو ميکاه د يهودا خلکو ته وويل:« په جت کې زموږ دښمنان زموږ د ماتې نه مه خبروئ او مه
پرېږدئ چې هغوی ستاسو ژړا ووينې. ای د بيت‌عفره خلکو، په خاورو کې ورغړېږئ. ۱۱ ای د
شافير د ښار خلکو، زموږ دښمنان به تاسو لوڅ کړي او تاسو به په شرم سره مجبور کړي چې
جلاوطنه شئ. د صعنان د ښار خلک نه شي کولای چې د ښار نه ووځي. کله چې تاسو د بيت‌ايزل د
ښار د خلکو ويرونه واورئ، نو تاسو به پوه شئ چې هلته هم د پناه ځای نشته. ۱۲ د ماروت
خلک په پرېشانی سره د ارامی د راتللو انتظار کوي، ځکه چې ښتن مصيبت د اورشليم تر دروازو
پورې رارسولی دی. ۱۳ ای د لاخيش اوسېدونکو، په اسونو پسې جنګي ګاډی وتړئ او وتښتئ.
تاسو د اسراييلو د ګناهونو پيروي وکړه او اورشليم مو ګناه ته راوکاږه. ۱۴ ای د يهودا خلکو، د
مورشت‌جت د ښارګوټي سره خدای پاماني وکړئ. د اسراييلو پاچاهانو ته د اکزيب د ښارګوټي څخه
مرسته نه رارسيږي. ۱۵ ای د مريشې خلکو، ښتن به تاسو هغه دښمن ته په لاس ورکړي چې
غواړي ستاسو ښارګوټی ونيسي. د اسراييلو مشران به لاړ شي او د عدولام په سمڅه کې به پټ شي.
۱۶ ای د يهودا خلکو، د خپلو خوږو اولادونو له غمه خپل سرونه وخرايئ او خپل ځانونه د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ټپوسانو په شان ګنجيان کړئ، ځکه چې ستاسو اولادونه به ستاسو نه لېرې وطنونو ته جلاوطنه شي.»

## د هغو خلکو سرنوشت چې په غريبانو باندې ظلم کوي

۲ ① افسوس ستاسو په حال چې په شپه کې ويښ پراته يئ او بدې نقشې جوړوئ! کله چې سهار شي، نو ځنګه چې موقع په لاس درشي، تاسو خپلې بدې نقشې عملي کوئ. ② کله چې ستاسو زړه پټي وغواړي، نو د خلکو پټي په زور نيسئ. کله چې ستاسو زړه کورونه وغواړي، نو تاسو د خلکو کورونه نيسئ. د هېچا کورنی يا جايداد په امن کې نه دی.

③ څښتن داسې وايي چې زه اراده لرم چې په تاسو باندې يو افت راولم او تاسو به نه شئ کولای چې ځان ورڅخه خلاص کړئ. تاسو به په بلا اخته شئ او نور به په غرور سره نه ګرځئ. ④ کله چې هغه وخت راشي، نو ستاسو دښمنان به تاسو ته پېغور درکوي او هغوی به ستاسو د غم په هکله دا سندره وايي:

مونږ بېخي تباه شو

څښتن زمونږ نه خپل وطن اخيستی

او هغه يې ورکړی هغو خلکو ته دی

چې اسيران کړي يو مونږ

⑤ نو کله چې هغه وخت راورسيږي چې هغه ځمکه بېرته د څښتن قوم ته ورکړل شي، نو په هغې کې به ستاسو د اولادونو هېڅ برخه نه وي.

⑥ خلک ماته وايي: «داسې خبرې مه کوه، مونږ ته وعظ مه کوه. د دې خبرو په هکله تبليغ مه کوه. خدای به مونږ نه شرموي. ⑦ ايا داسې بايد وويل شي، ای د اسراييلو قومه؟ ايا څښتن خپله



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حوصله له لاسه ورکړې؟ ایا هغه به داسې کارونه کوي؟ ایا څښتن د هغه چا سره چې نېک کارونه کوي، په مهربانۍ سره خبرې نه کوي؟»

٨ خو څښتن هغو خلکو ته په ځواب کې وايي: «تاسو زما په قوم باندې د دښمن په شان حمله کوئ. کوم خلک چې د جنګ نه راروان وي، هغوی فکر کوي چې په کور کې خوندي دي، خو تاسو ورته هلته د دې انتظار کوئ چې کورتۍګانې ورڅخه غلا کړئ. ٩ تاسو زما د قوم ښځې د خپلو ښایسته کورونو څخه شړئ او د هغوی اولادونه په دې نړۍ کې زما د برکتونو څخه د تل دپاره بې‌برخې کوئ. ١٠ پاڅېږئ او لاړ شئ، په دې وطن کې نور امن نشته. ځکه چې ستاسو د ګناهونو په خاطر دا ځای ناپاکه شوی او بلکل به له منځه لاړ شي.

١١ دا خلک داسې پیغمبران غواړي چې هغه دروغجن او چلباز وي او وايي: ‹زه دا پېشګويي کوم چې په تاسو باندې به شراب رابهېږي.›

### د اسراییلو دپاره د جلاوطنۍ نه د خلاصون لاره

١٢ څښتن وايي:« خو ای د اسراییلو هغو خلکو چې ژوندي پاتې يئ، زه به تاسو سره راټول کړم. زه به تاسو داسې سره راټول کړم لکه پسونه چې پنډغالي ته راټولېږي. ستاسو وطن به د ډېرو خلکو د شورماشور نه بیا داسې ډک شي لکه څنګه چې څرځای د ډېرو پسونو نه ډک وي. ١٣ زه به د هغوی دپاره یوه لاره خلاصه کړم او هغوی ته به د جلاوطنۍ نه د راوتلو لاره وښایم. هغوی به د ښار دروازې ماتې کړي او وبه وځي. د هغوی پاچا چې څښتن دی، د هغوی نه به مخکې روان وي او په خپله به د هغوی لارښوونه کوي.»

### میکاه د اسراییلو مشران او پیغمبران ملامتوي

٣ ١ میکاه وویل: «ای د اسراییلو د قوم مشرانو، غوږ ونیسئ! تاسو باید عدالت وپېژنئ، ٢ خو تاسو د نېکۍ نه کرکه کوئ او بدي خوښوئ. تاسو لکه قصاب د خلکو نه پوستکي وباسئ او لکه ځنګلي ځناور د هغوی د هډوکو نه غوښې شلوئ. ٣ تاسو زما د خلکو غوښې خورئ. تاسو د



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی نه لکه قصاب پوستکي وباسئ، د هغوی هډوکي ماتوئ او هغوی د غوښې په شان ټوټې
کوئ او په دېګ کې يې اچوئ. ۴ بيا به تاسو څښتن ته فريادونه کوئ، خو هغه به درته ځواب نه
درکوي. هغه به ستاسو نه مخ اړوي، ځکه چې تاسو بد کارونه کړي دي.»

۵ دا هغه څه دي چې څښتن يې وايي: «تاسو جعلي پيغمبران زما خلک غولوئ، تاسو د هغو
خلکو دپاره د سولې او سلامتی وعده کوئ چې خواړه درکوي، خو څوک چې خواړه نه ورکوي،
هغوی په جنګ باندې وېروئ. ۶ نو ای پيغمبرانو، په تاسو باندې به شپه راشي چې رويا به په کې
نه وي او تياره به راشي چې پېشګويي به نه وي. لمر به پرېوځي او ورځ به درته تياره وي. ۷
غيب ويونکي به وشرمېږي او فال کتونکي به رسوا شي. هغوی به د خجالت نه خپل مخونه پټ کړي،
ځکه چې زه به هغوی ته ځواب نه ورکوم.» ۸ ميکاه وويل: «خو د خپل ځان په هکله بايد ووايم
چې څښتن زه د خپل قدرت او روح نه ډک کړی يم او ماته يې د عدالت کولو احساس او جرات
راکړی دی چې د اسراييلو خلکو ته د هغوی ګناهونه وروښايم.

۹ ای د اسراييلو مشرانو، تاسو چې د عدالت نه کرکه کوئ او نېکي په بدی بدلوئ، نو ماته غوږ
ونيسئ. ۱۰ تاسو د قتلونو او بې‌انصافۍ له مخې صهيون يعنې اورشليم جوړوئ. ۱۱ د ښار
حاکمان رشوتونه اخلي، کاهنان يوازې د پيسو په خاطر د خدای د قوانينو په هکله تعليم ورکوي،
پيغمبران په پيسو باندې پېشګويانې کوي او هغوی ټول دعوه کوي چې دوی په څښتن باندې تکيه
کوي. هغوی وايي: ‹مونږ ته به هيڅ کوم زيان نه رارسيږي، ځکه چې څښتن زمونږ سره مل دی.›
۱۲ نو ستاسو په سبب به صهيون لکه د پټي په شان قلبه شي، اورشليم به په کنډوالو باندې بدل شي
او د صهيون غر نه به چې د خدای کورورباندې جوړ شوی دی، ځنګل جوړ شي.»

## سوله او نېکمرغي

(اشعيا ۲: ۲–۴)

**۴** ۱ راتلونکو ورځو کې به



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په کوم غر چې دی جوړ شوی د څښتن کور

وي به نړۍ کې دا غر لوړ له ټولو غرونو څخه

هغه به لوړ وي ټولو غونډیو څخه

وي به قومونه ورروان هلته

٢ هغوی به راشي وبه وايي داسې:

راځئ ورخېژو د څښتن غره ته مونږ

پورته شو کور ته د یعقوب د خدای

هلته به وښايي هغه مونږ ته خپلې لارې

او مونږ به وکړو هغه کار چې وي خوښ د هغه

ځکه چې شریعت د څښتن به له صهیونه راشي

د ده کلام به راشي له اورشلیمه څخه

٣ څښتن به وکړي قضاوت د ډېرو قومونو ترمنځ

د قاضي په شان به حل کړي د قوي او لېرې قومونو شخړې

خپلو تورو نه به جوړ کړي خلک پال د قلبې

نېزې بدلې په لورونو به کړي

بیا به هېڅکله قومونه غوره نه کړي د جنګ لاره



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بیا به هېڅکله دوی نه نیسي د جنګ تیاری

۴ هغوی به ژوند کوي په سوله کې

خپل د انګورو په باغونو او انځرو لاندې

او هېڅوک به نه وي چې دوی ووېروي

دغه وعده کړې ده مطلق قادر ښښتن

۵ هر یو قوم د خپل خدای عبادت او اطاعت کوي، خو مونږ به تل ترتله د خپل ښښتن خدای عبادت او اطاعت کوو.

## اسراییل به د جلاوطنۍ نه راستانه شي

۶ ښښتن وايي: «هغه وخت راروان دی چې زه به هغه ګوډ خلک سره راټول کړم چې سزا مې
ورته ورکړې وه او شړل شوي وو. ۷ هغه خلک چې ګوډ شوي دي او په جلاوطنۍ کې پاتې دي،
د هغوی نه به یو لوی قوم جوړ شي. نو له همدا اوس نه تر ابده پورې به زه ښښتن د صهیون په غره
کې په هغوی باندې حکومت وکړم.»

۸ او ای اورشلیمه، چېرته چې خدای لکه د خارنې د برج نه د شپانه په شان په خپلو خلکو
باندې پام کاوه، ته به یوځل بیا د خپلې پاچاهۍ پایتخت شې، لکه په یو وخت کې چې وې. ۹
اوس دومره په لوړ اواز ولې چیغې وهې؟ ته ولې د هغې ښځې په شان چې د لنګون په درد باندې
اخته وي، په تکلیف یې؟ ایا دا په دې خاطر چې پاچا نه لرئ او مشاوران مو مړه شوي دي؟ ۱۰
ای د اورشلیم ګرانو خلکو، د هغې ښځې په شان تاوېږئ، راتاوېږئ او زګېروي کوئ چې د لنګون په
درد اخته وي، ځکه چې تاسو باید ښار پرېږدئ او په یو ډاګ کې واوسېږئ. تاسو به بابل ته لاړ شئ،
خو هلته به ښښتن تاسو وژغوري او د خپلو دښمنانو نه به مو بېرته ازاد کړي. ۱۱ ډېر قومونه سره
راټول شوي دي چې حمله درباندې وکړي. هغوی وايي: «اورشلیم باید وران شي! مونږ به ووینو چې



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دا ښار به په کنډوالو باندې بدل شي!» ⑫ خو دا قومونه په دې نه پوهيږي چې د څښتن خيالونه
څه دي او د هغه اراده څه ده. هغوی په دې باندې نه پوهيږي چې دوی د دې دپاره راټول کړای
شوي دي چې داسې سزا ورته ورکړل شي لکه څنګه چې ګېډۍ د غوبل دپاره راوړل شوي وي.

⑬ څښتن وايي: «ای د اورشليم ګرانو خلکو، پاڅيږئ او خپلو دښمنانو ته داسې سزا ورکړئ لکه
غنم چې غوبل کيږي! زه به تاسو د هغه غويي په شان چې اوسپنيز ښکرونه او برنجي سومان لري،
قوي کړم. تاسو به ډېر قومونه ټوټې ټوټې کړئ او هغوی چې په زورزياتي باندې کوم مال دولت
لاسته راوړی دی، هغه به ما يعنې د ټولې دنيا څښتن ته وقف کړئ.»

**۵** ① ای د اورشليم خلکو، خپل قوتونه سره راټول کړئ! ستاسو ښار کلابند شوی دی، دښمنان
د اسراييلو مشر په کوتک باندې په مخ وهي!

د بيت‌لحم نه د يو حاکم رامنځته کېدل

② څښتن وايي: «خو ای د بيت‌لحم افراتې، که څه هم ته په يهودا کې ډېر کوچنی ښارګوټی يې،
خو ستا نه به د اسراييلو دپاره يو حاکم رامنځته شي چې د هغه د کورنۍ نسب‌نامه د پخوا زمانو نه
راروانه ده.»

③ نو څښتن به خپل قوم تر هغه وخته پورې خپلو دښمنانو ته پرېږدي، ترڅو د هغې ښځې چې د
لنګون په وخت کې ده، زوی وشي. بيا به هغه اسراييليان چې جلاوطنه دي، بېرته د خپل قوم سره
راستانه شي. ④ کله چې هغه حاکم راشي، نو د څښتن په قدرت او په خپله د څښتن خدای د
جلال سره به په خپل قوم باندې حکومت وکړي. د هغه قوم به په امن کې ژوند کوي، ځکه چې د
هغه لويي به ټوله نړۍ وپېژني. ⑤ هغه به ارامي راولي.

خلاصون او سزا

کله چې آشوريان زمونږ په وطن باندې حمله وکړي او زمونږ دفاعي‌ليکه ماته کړي، نو مونږ به خپل



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ډېر قوي مشران ولېږو چې د هغوی سره وجنګيږي. ⑥ هغوی به د خپلو تورو په زور په آشور
يعنې د نمرود په وطن باندې بريالي شي. کله چې آشوريان زمونږ د وطن د سرحد نه تېر شي چې
حمله وکړي، نو هغه حاکم به مونږ د هغوی نه وژغوري.

⑦ د اسراييلو کوم جلاوطنه خلک چې ژوندي پاتې شوي دي، هغوی به د هغې تازه پرخې په
شان وي چې څښتن په ټولو قومونو باندې اورولې وي او د هغه باران په شان به وي چې په شنو
بوټو باندې اوريږي. هغوی به په خدای باندې توکل کوي، نه په انسانانو باندې. ⑧ د نورو قومونو
په منځ کې چې کوم اسراييليان ژوندي پاتې دي، هغوی به د هغه زمري په شان وي چې په ځنګل
کې د خوراک په لټه کې وي. هغه د پسونو منځ ته ورننوځي، په هغوی باندې به ناځاپه ورټوپ کړي
او هغه پسونه به ټوټې ټوټې کړي او هيڅ خلاصوونکی به نه وي. ⑨ په دې ډول اسراييل به په
خپلو دښمنانو باندې بريالی شي او هغوی ټول به له منځه يوسي.

⑩ څښتن اسراييلو ته وايي: «په هغه وخت کې به زه ستاسو اسونه ووژنم او جنګي ګاډی به مو له
منځه يوسم. ⑪ زه به ستاسو د وطن ښارونه وران کړم او ستاسو ټولې قوي کلاګانې به
راوغورځوم. ⑫ زه به ستاسو جادوګري له منځه يوسم او فالکتونکي به نور نه وي. ⑬ زه به
ستاسو بتان او د تيږو ستنې له منځه يوسم او نور به تاسو هغو شيانو ته عبادت نه کوئ چې تاسو په
خپلو لاسونو باندې جوړ کړي دي. ⑭ زه به ستاسو په وطن کې د اشيره د بت مجسمې
راوغورځوم او ستاسو ښارونه به وران کړم. ⑮ زه به په خپل سخت قهر سره د هغو قومونو نه بدل
واخلم چې زما اطاعت يې نه دی کړی.»

## د اسراييلو په خلاف د څښتن دعوه

**۶** ① د اسراييلو په خلاف د څښتن دعوې ته غوږ ونيسئ.

ای څښتنه، راپورته شه او خپله دعوه دې راوړاندې کړه. پرېږده چې غرونه او غونډۍ ستا خبرې
واوري.



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲ ای غرونو، ای د ځمکې ابدي بنیادونو، د څښتن دعوې ته غوږ ونیسئ! څښتن د خپل قوم په
وړاندې دعوه لري. هغه په اسراییلو باندې تور لګوي.

۳ څښتن وایي: «ای زما قومه، ما ستاسو سره څه کړي دي؟ په تاسو باندې ما کوم بار اچولی
دی؟ ماته ځواب راکړئ. ۴ ما تاسو د مصر نه راوویستلئ او د غلامی نه مې ازاد کړلئ. ما موسی،
هارون او مریم درولیږل چې ستاسو لارښوونه وکړي. ۵ ای زما قومه، در په یاد کړئ چې د
موآب پاچا بالاق ستاسو په هکله څه بد پلان درلود او د بعور زوی بلعام ورته څنګه ځواب ورکړ.
در په یاد کړئ چې د شطیم د کمپ نه د جلجاله تر کمپ پورې په لاره کې څه شوي وو. دا هرڅه
در په یاد کړئ، نو تاسو به پوه شئ چې ما ستاسو د ژغورلو دپاره په وفادارۍ سره کارونه کړي
دي.»

## د خپلو خلکو څخه د څښتن غوښتنه

۶ کله چې زه څښتن ته د عبادت دپاره راځم، نو د ځان سره د اسمانونو خدای ته څه شی
راوړم؟ ایا ښه خوسیان راولم چې د سوځېدونکو نذرانو په توګه ورته وړاندې شي؟ ۷ که چېرې
هغه ته په زرګونو پسونه راولم او یا ورته د زیتونو د تېلو نهخلاصېدونکې ویالې راولم، ایا هغه به
ورباندې خوشحاله شي؟ یا د خپلو ګناهونو په بدل کې ورته خپل لومړنی اولاد وړاندې کړم؟

۸ نه، څښتن تاسو ته ویلي دي چې نېکي کول څه شی دی. هغه چې زمونږ نه څه غواړي هغه دا
دي: د انصاف نه کار واخلو، تلپاتې مینه وکړو او په عاجزۍ سره د خپل خدای په لاره لاړ شو.

## د اسراییلو ملامتیا او د هغوی دپاره سزا

۹ که تاسو هوښیار یئ، نو د څښتن څخه ووېرېږئ. هغه د اورشلیم په ښار باندې غږ کوي: «ای
هغو خلکو چې په ښار کې راټول شوي یئ، غوږ ونیسئ! ۱۰ د بدکارو خلکو په کورونو کې داسې
خزانې دي چې په بېایمانۍ سره یې لاسته راوړي دي. هغوی د سپکو وزنونو څخه کار اخلي چې زه
د داسې کار نه کرکه کوم. ۱۱ هغه خلک څنګه وبخښم چې د غلطو ترازوګانو او سپکو وزنونو نه



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کار اخلي؟ ۱۲ ستاسو شتمن خلک د غریبانو نه ګټه اخلي او ټول خلک غولوونکي او دروغجن
دي.

۱۳ نو ما لا د مخکې نه ستاسو د ګناهونو له امله ستاسو په تباه کولو او بربادولو پیل کړی دی.
۱۴ تاسو به خوراک کوئ، خو مړېږئ به نه او بیا به هم وږي یئ. هرڅه چې ذخیره کوئ، هغه به
ساتلي نه شئ. هرڅه چې ساتئ، زه به هغه په جنګ کې له منځه وړم. ۱۵ تاسو به غلې دانې کرئ،
خو فصل به یې ونه رېبئ. د زیتونو نه به تېل وباسئ، خو کار به ورڅخه نه شئ اخیستلی. تاسو به
شراب جوړوئ، خو هغه به هېڅکله ونه څښئ. ۱۶ داسې به کېږي، ځکه چې تاسو د عمري پاچا
او د هغه د زوی اخاب د بدو کارونو او د هغوی د رسمونو او رواجونو څخه پیروي کوئ، نو زه به په
تاسو باندې تباهي راولم او هرڅوک به درته په سپکه سترګه ګوري. په هرځای کې به خلک درباندې
ملنډې وهي.»

## د اسراییلو بدبختي

٧ ۱ افسوس دې وي زما په حال! ځکه زه د هغه وږي کس په شان یم چې د فصل د راټولېدو
نه وروسته په ونو کې ورته مېوه او په تاکونو کې ورته انګور نه پیدا کېږي. ځکه چې انګور او
خوندور او پاخه انځران پاتې شوي نه دي. ۲ ټول خدای ته وفادار خلک ورک شوي دي او هېڅ
یو صادق سړی د ځمکې په مخ نه دی پاتې. هرڅوک د دې موقعې په انتظار کې دی چې قتل وکړي
او هرڅوک خپل خلک په دام کې راګېروي. ۳ هغوی ټول په بدو کارونو کې ماهران دي.
مامورین او قاضیان رشوتونه اخلي. د غټو او قدرمندو خلکو چې هرڅه زړه غواړي، هغوی ته یې
وایي او هغوی په ګډه سره دسیسې جوړوي. ۴ حتی د هغوی ډېر ښه خلک هم لکه د اغزو په
شان او ایمانداره خلک یې لکه د کرکټو په شان دي.

هغه ورځ رارسېدلې ده چې خدای به هغو خلکو ته سزا ورکوي، لکه څنګه یې چې هغوی د خپلو
پهره‌دارانو یعنې پیغمبرانو په وسیله خبر کړي وو. اوس هغوی وارخطا دي. ۵ په خپل ګاونډې
باندې اعتبار مه کوه او حتی په خپل دوست باندې هم یقین مه کوه. حتی خپلې ګرانې ښځې ته هم



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې کومه خبره کوې، نو په هغې کې احتیاط کوه. ۶ په دې زمانه کې زوی خپل پلار ته په سپکه سترګه ګوري، لور د خپلې مور سره مخالفت کوي او انږور د خپلې خواښې سره ناندرۍ وهي. د یو سړي د خپلې کورنۍ غړي د هغه دښمنان شي.

۷ خو زه به ښتن ته سترګې په لاره یم. زه به خدای ته په صبر سره انتظار کوم چې هغه به مې وژغوري. زما خدای به زما دعا قبوله کړي.

## ښتن د اسراییلو قوم ته خلاصون ورکوي

۸ ای زمونږ دښمنانو، بېځایه په مونږ باندې مه خوشحالېږئ. ځکه کله چې مونږ ولوېږو، نو بېرته به راپورته شو. کله چې مونږ په تیاره کې یو، نو ښتن به زمونږ دپاره رڼا وي. ۹ مونږ د ښتن په وړاندې ګناه کړې ده، نو مونږ باید تر یو وخته پورې د هغه قهر وزغمو. خو وروسته به هغه زمونږ دفاع وکړي او زمونږ دښمنانو ته به د هغو بدیو په سبب چې زمونږ سره یې کړې دي، سزا ورکړي. هغه به مونږ د تیارې نه رڼا ته راولي او مونږ به د هغه عدالت ووینو. ۱۰ نو زمونږ دښمنان به دا وګوري او رسوا به شي، یعنې هغو دښمنانو چې مونږ ته به یې پېغور راکاوه او پوښتنه به یې کوله: «چېرته دی ستاسو ښتن خدای؟» مونږ به وګورو چې هغوی به د ماتې سره مخامخ شي او د ختو په شان به په کوڅو کې تر پښو لاندې شي.

۱۱ ای د اورشلیم خلکو، ستاسو د ښار د دېوالونو د بیا جوړونې وخت راروان دی. په هغه وخت کې به ستاسو سیمه پراخه شي. ۱۲ ستاسو خلک به د هرځای نه بېرته تاسو ته راشي یعنې په ختیځ کې د آشور نه، په جنوب کې د مصر د ښارونو نه، د فرات د سیمې نه او د لېرې لېرې بحیرو او غرونو څخه. ۱۳ خو نور هیوادونه به د هغې د اوسېدونکو د بدکارۍ له امله په دښته باندې بدله شي.

## د اسراییلو سره د ښتن خواخوږي

۱۴ ای ښتنه، د خپل قوم شپون اوسه یعنې هغه قوم چې تا د خپل ځان دپاره غوره کړی دی. که



Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څه هم هغوی په ځنګل کې یوازې اوسېږي، خو شاوخوا ته یې حاصلخېزه ځمکه ده. پرېږده چې
هغوی لاړ شي او د باشان او جلعاد په شنو څرځایونو کې د پخوا زمانو په شان وڅرېږي.

۱۵ ښښتن وايي: «زه به هغوی ته خپلې معجزې وښايم لکه څنګه چې ما په هغه وخت کې
وښودلې چې کله مې تاسو د مصر نه راویستلئ. ۱۶ نور قومونه به دا وګوري او د هغه ټول قوت
سره سره چې دوی یې لري، وبه شرمېږي. هغوی به له وېرې خپله خوله پټه کړي او څه به نه اوري.
۱۷ هغوی به لکه د مارانو په شان په خاورو کې په سينه باندې ښویېږي او خاورې به څټي. هغوی
به د خپلو جنګي کلاګانو نه راوځي او رپېږي به. هغوی به له وېرې ما ښښتن ته چې ستاسو خدای
یم راوګرځي.»

۱۸ ای ښښتنه، ستا په شان بل خدای نشته. ته د خپلو هغو خلکو ګناهونه او سرکښي بخښې چې د
جلاوطنۍ نه وروسته ژوندي پاتې شوي دي. ستا قهر به د تل دپاره نه وي، خو ته مونږ ته د خپلې
تلپاتې مينې په ښودلو باندې خوشحالېږې. ۱۹ ته به یوځل بیا په مونږ باندې مهربانه شې. ته به
زمونږ ګناهونه تر پښو لاندې کړې او هغه به د بحيرې تل ته وروغورځوې! ۲۰ ته به خپله وفاداري
او تلپاتې مينه مونږ ته یعنې د ابراهيم او یعقوب اولادې ته وروښايې، لکه څنګه چې دې په پخوا
زمانو کې زمونږ د نیکونو سره وعده کړې وه.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
افغانستان ۲۰۲۳ © afghanbibles.org
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.